**د موميا ابوجمال ليك ***

ژباړه: فرهاد وياړ

زه د هغه ناعادلانه حکم په ضد مبارزې ته ادامه ورکوم چې زما په اړه صادر شوی دی. شايد برياليى شم يو څه خطرناکه افساني له منځه ويسم، هغه افساني چې زمونږ پر فکرونو تپل شوي دي. د مثال په توګه په محکمې يا زمونږ په قضايي پلاوي کې د بې پرې او بې طرفه حق څخه د برخمن کيدلو افسانه، له خپل ځان څخه د دفاع د حق افسانه، يا اصلا د يوې سالمې محاکمې د حق لرلو افسانه. دا ټول تقريباً واقعي حقونه نه دي، بلکې د شتمنو او ځواکمنو امتيازات دي. د بيوزلو او نيستمنو لپاره دا د صابون د پوکانۍ په شان دي او همدا چې د انسان لاس ورسره ولګيږي او وغوړيږي هغه د ځان لپاره د يو مادي او واقعي شئي په توګه وکاروي، چوي. دا تمه نشته چې رسنۍ دې په دې هکله خبرونه خپاره کړي. هغوی هيڅ هم نشي کولاې، ځکه چې د رسنيو او حکومت ګټې او همدا ډول د سترو کنسرنو ګټې، چې د دې دواړو د خدمات له امله په پېنو ودريدلي دي، ډير سره نژدې او غوټه شوي دي.



خو زه کولاې شم دا کار وکړم.

او زه به دا کار وکړم، ان که مجبوره ووسم هغه د مرگ تر سیوري لاندې تر سره کړم.

د مرگ د انتظار له سلول څخه

مومیا ابوجمال، د ۱۹۹۴ کال دسمبر

* د مومیا ابوجمال ( چې یو امریکایي دی) دا لیك په ۲۰۰۱ کال کې د المان په لوبك کې د اریش – موزام د جایزې گټونکی شوی دی.